

Dr.Said Afghani






انجنير عبدالقادر« مسعود »

د نشرنيټه : 4 سپتامبر 2026 ميلادی

# شارل دو مونتسکيو فرانسوي فيلسوف ، سياسي متفکر او تکړه ليکوال



شارل دو مونتسکيو فرانسوي فيلسوف
سياسي متفکر او تکړه ليکوال

شارل دو مونتسکيو: هغه د روښانتيا په زمانه کې يو فرانسوي فيلسوف، وکيل، روښاناندی، سياسي متفکر او تکړه ليکوالو وو، چې د جنوري مياشتې په (۱۸) مه، پر (۱۶۸۹) زېږديز کال د فرانسې په هيواد کې د «بوردو» په ښار کې زيږيدلی دی.

د هغه د کورنۍ ټول غړي مشران او وکيلان ول. هغه د حقوق او قانون زده کړه هم وکړه. پر (۱۷۰۸)ز کال کې څارنوال شو او د قضأ دنده يې غوره کړه، او پر (۱۷۱۳) ز کال کې د پلار له مړينې وروسته د پارلمان د حقوقي سلاکار په توګه وټاکل شو.

مونتيسکيو علمي، تاريخي او حقوقي څېړنو ته ځانګړې پاملرنه وکړه او د هغه وخت د هيواد له اکر او حالت څخه ناخوښه وو، د مستعار په نوم يې د ايراني ليکونو په نوم يو کتاب خپور کړ او د دې کتاب د پاملرنې له امله پر (۱۷۲۷)ز کال کې د فرانسې د فرهنګستان غړی وټاکل شو.

هغه په تدریج سره د څارنوالی له دفتر څخه ووت او د خپل نامتو نبنیر(اثر)، (روح القوانین)په تدوین یې پیل وکړ. دا کتاب نوموتی شو او وروسته، د ډیرو هیوادونو او حکومتونو په ادارو کې یې ځانګړی اغېز پرېښی دی.

مونتیسکیو هغه لیکوال او فیلسوف دی، چې باور یې درلود، انقلاب، پرته له یاغیتوب او بغاوت او وینه تویول هیڅ نه کوي او هغه څه چې ټولنه ورته اړتیا لري قانون دی. ده ډېر اثار لیکلي دي او د پام وړ کلمات او نصیحت کوونکي جملې چې د هغه له خپرو شویو لیکنو او خاطراتو څخه پاتې دي.

مونتیسکیو د نړۍ بېلابېلو هیوادونو ته له ډیرو سفرونو وروسته د فبروري میاشتې په (۱۰) مه، پر (۱۷۵۵) ز کال کې په پاریس کې مړ شوی دی.

**دا هم شارل دو مونتسکیو ارزښتناکي او ګټورې خبرې او ویناوې:**

- یو هېواد هغه وخت آزاد او خپلواک بلل کېږي، چې خلک یې آزاد او خپلواک وي.

- هغه بشر چې د حق، اند و فکر، ګروهي او عقیدې د بیان آزادي و نه لري هغوی په ژوندیو کې نه ګڼل کېږي.

- هغه څوک چې پرته له اندو فکره خبرې کوي د هغه ښکارچي په څېر دی چې بې موخه او هدفه ډزې کوي.

- د کتاب لوستل پدې مانا دي چې ستړي شوي ساعتونه په خوندور ساعتونو بدل کړئ.

- موږ باید ډیر لوست او مطالعه وکړو ترڅو پوه شو چې موږ هیڅ نه پوهیږو.

- یوازې ځواک کولی شي د ځواک مخه ونیسي.

- د ازادۍ غوښتني غورځنګونو ګوزارونه د بې وزلو او غریبو خلکو په سرو مال راځي، ستمګران تل د خپل زور او د زور د سیوري لاندې ژوند کوي.

- په زورواکۍ کې د وګړیو سوکالي، خوندیتوب او امنیت د هوسۍ په ښکره کې وي.

- د دې لپاره چې قانون ښه پلی شي، ښایي د وګړیو ارواوې یې منلو ته چمتو وي.

- د یوې ټولنې ویجاړي دوه ډوله ده: لومړی، هله چې وګړي قانون نه مني؛ چې دا درد چاره لري، او بل دا چې قانون وګړي بدو رد وي چې دا  درد، درمل نه لري، ځکه درد د درملنې زیږنده وي.

- په استبدادي حکومت کې روزنه دا ده چې په زړونو کې ډار کېږدي او څو ساده مذهبي لارښوونې زده شي. هلته له پوهې نه کرکه کېږي، ځکه چې بدې پایلې ورته لري.

- په زور واکو هېوادو کې تر ټولو خوار هېواد هغه دی چې پاچا یې سوداګر وي.

- د استبدادي حکومت بنسټ ډار او د دغه ډار موخه آرامي ده، خو ښایي پوه شو چې دا آرامي سوله نه ده او د هغو ښارونو چوپتیا ته ورته ده چې پټه وېره په کې ده، نو ژر به د دښمن لاس ته ورشي.

- د سیاست په باریکیو کې چل روا دی او لویوالی او عظمت نه ژوبلوي.

- خپلواکي او دیموکراسي فطري ده، یو ملت د ډانګ په زور خپلواک او دیموکرات کېدای نه شي.

- د لنډې مودې لپاره دې خپلواکي له لاسه ووځي چې د تل لپاره وساتل شي.

- خپلواکي دې ته وایي چې څوک له قانونه سرغړونې ته اړ نه شي.

- ترنیولو وروسته نیوونکی د وړلو حق نه لري، ځکه نیول شوي خو نوره ځانساتنه نه شي کړای.

- اروپا به د خپلو واکمنو او پوځي مشرانو له لاسه ړنګه شي.

- په مینه کې مینه وال معمولن په چوپتیا کې وخت تیروي.

- انسان د سیند په څېر دی، څومره چې ژور وي هومره ارام وي.

- جمهوریتونه له عیش او عشرت له پایلې څخه او پادشاهی او سلطنتونه د غربت له وجهې له منځه ځي.

- آزادي باید د یو څه وخت لپاره له لاسه ورکړل شي، ترڅو دا د تل لپاره وساتل شي.

- د یو هیواد سوکالي او هوساینه د هغې په آزادۍ اټکل او اندازه کیږي، نه د هغې په زرغونتیا.

- د ځینو خلکو لپاره، د ازادۍ مانا دا ده چې دوی حق لري چې وسله ولري او مسلح وي او په خلکو باندې زور واکي وکړي.

- سوله د سوداګرۍ طبیعي پایله ده.

- هو! ځینو ته خپلواکي بل ډول ښکاري او منلی یې نه شي، کله کله پاکه هوا هم هغه چاته چې په ناپاکو ځایو کې اوسیږي، تاوان پیښنوي.

- که نارینه او ښځینه یو ډول روزل کېدای، ځواک به یې یو شان وئ.

- هغه څه چې په وسله لاس ته راغلي، کېدای شي چې په ترون له لاسه ووځي.

- په زور واکو هېوادونو کې د توکو لیکل دومره دود نه دي، ځکه چوپتیا او ناپوهي نه د لیکلو وړتیا روزي نه یې تکل او اراده.

- په ډیری اکربکر (حال احوال) کې بریالیتوب پدې پورې اړه لري، چې پوه شئ چې دا به څومره وخت ونیسي.

- یو حکومت چې د جګړې په وسیله رامینځته کیږي باید د جګړې له لارې ځان وساتي.

- د اروپا ورانې به، د هغو پوځي قوماندانانو او امراو په لاس وي.

- د استبداد تر ټولو ظالمانه بڼه هغه ده چې د قانون تر ډال لاندې او د نیاو(عدالت) په نوم ترسره کیږي.

- مخکې له دې چې د يوې قضيې په اړه پرېکړه وکړئ، تل د ضمير او وجدان محکمې ته يې وړاندې کړئ. ضمير او وجدان يو بې بېلګې لاربنود او بې پرې قاضي دی.

- د مديريت د وړتيا لوړوالی دا دی چې سړی پوه شي چې څومره او چيرته بايد خپل ځواک وکاروي.

- بد اندونه او فکرونه يوازې خپل خاوند ته يې زيان رسوي، ولې غير معمولي کلمې ټولو اوريدونکو ته زيان رسوي.

- څومره چې خلک لږ اند و فکر کوي، هغومره زياتې خبرې کوي.

- که چېرې يوازې د نيکمرغی په لټه کې يې دا کار اسان دی خو که غواړې چې تر نورو زيات نيکمرغه شئ دا کار ډېر ستونزمن او مشکل دی ځکه نور خلک هم دومره نيکمرغه نه دي لکه چې ته اندو فکر کوئ.

- که شتمني د عقل سره نه وي، نو بدبختي به راوړي.

- استعداد او وړتيا هغه ډالی ده چې خدای موږ ته په پټه کې راکړې ده، او موږ يې، پرته له دې چې پوه شو ښکاره کوو.

- قانون بايد د هر هېواد، د خلکو د غوښتنو، مزاج او تمدن له مخې جوړ شي.

د دې لپاره چې قانون په خپل وخت جوړ او په ټولنه کې تطبيق شي، ښه دا ده چې د خلکو روحيه د قانون د منلو لپاره چمتو شي.

- بايد حُکم دومره ټينګ ، ثابت او غښتلی وي، چې د يوه قانون د بشپړ متن په اندازه ارزښت ولري، که چېرې حُکمونه د ځانګړې ګروهې او عقيدې په بنسټ ولاړ وي په داسې ټولنه کې نه څوک خپلې دندې پېژني او نه څوک په دا خبره پوهيږي چې سبا ته به څه پيښيږي.

- بايد د ماليې قانون داسې جوړ شي چې د ماليې د اخيستلو لارې چارې يې تر ماليې درندې او ځوروونکې نه وي.

- ازادي د هر هغه څه د ترسره کولو حق دی چې قانون ورته اجازه ورکوي او هغه څه نه کوي چې قانون يې منع کوي.

- که د قضاوت ځواک د جوړولو او اجرا کولو له ځواک څخه جلا نه وي، دا به بيا هم د ازادی نښه نه وي.

- د دې لپاره چې د ځواک څخه ناوړه ګټه پورته نشي، توان، ځواک او قدرت بايد داسې تنظيم شي چې ځواک د ځواک مخه ونيسي.

- د اکر او وضعيت ګډوډ کول عقل او پوهې ته اړتيا نلري، خو د نظم او توازن رامينځته کول د عقل او پوهې په ځواک پورې اړه لري.

ـ تاسو کولی شئ د پریکړې کولو د مخه، قضیې د وجدان او ضمیر محکمې ته وسپارئ، وجدان او ضمیر یو ځانګړی لاربنود او بې پرې قاضي دی.

ـ که یو څوک وغواړي چې یوازې خوشحاله وي، هغه به ژر بریالی شي، خو که هغه غواړي د نورو په پرتله خوشحاله وي او دا یوه ستونزه ده، ځکه چې هغه اند او فکر کوي چې نور د دوی په پرتله خوشحاله دي.

ـ کتاب لوستل د غم شیبې په خوښی بدلوي.

ـ هیڅکله مې داسې غصه او قار نه درلود چې د یوې ګړی مطالعې او لوست نه وروسته نه وي ورک شوی.

ـ هغومره چې طبیعي لاملونه انسان دمې ته راکاږي، همدومره بنایې اخلاقي لاملونه هغه له دمې لرې وساتي.

ـ د تیر ژوند یو ساعت په هیڅ بیه او قیمت بیرته نشي راتلی، خو د ډېرو کمو پیسو په ورکولو سره، تاسو کولی شئ د نړی د لویو هوښیارانو د ژوند ازماېښتونه او تجربې ترلاسه کړئ.

ـ موږ کولای شو خلکو ته مینه، محبت او خوښې ورکړو، خو هېڅکله د دې شیانو لیاقت نه شو ورکولای.

***

په ادبي مینه او درنښت:

انجنیر عبدالقادر «مسعود»

[www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org) ـــ به صفحه اصلی